UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**د روژې د مبارکې مياشتي په وياړ د افغانستان د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازي، يان کوبيش وينا**

**کابل، ۲۰۱۲، د جولای ۱۹**- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) د افغانستان خلکو او دولت ته د روژې د مبارکې مياشتې د رارسيدو په وياړ مبارکي وړاندې کوي.

د روژې مبارکه مياشت د تفکر، عبادت او د رحم د څرګندونې مياشت ده.

راځئ چې موږ ټول د روژې په مبارکه مياشت کې د افغانانو لپاره چې د تيرو دريو لسيزو په موده کې يې د جګړې له امله رنځونه وګالل، د سولې او سوکالۍ په موخه کار وکړو.

موږ په ټولو خواوو غږ کوو، چې د دې مياشتې سپڅلتيا ته درناوی وکړي او افغانو کورنيو ته د سولې او امن په فضا کې د عبادت کولو او لمانځنې امکان ورکړي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو کورنۍ تاسو ټولو ته د روژې په دغه مبارکه مياشت کې د سولې او خوشحالۍ هيله کوي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**